سلام خان ۲۰۱۰/۱۲/۱۵

# دافغانستان جګړه باید ختمه شي!

ریچارد هالبروک دافغانستان او پاکستان لپاره دباراک اوباما خاص استازی دخپل ژوند ورستني خیره داؤ، چی دافغانستان جګړه باید ختمه شی، نوموړی خبر یوی امریکایی ورځپاڼی چی دد پوست په نامه یا دیږي دریچارد هالبروک له مر ګه وروسته دهغه ډاکټر دڅرګندونو په اساس خپور کړی دي چی له هالبروک سره دهغه دژوند په ورستیو شیبو کی په روغتون کی شوي وي،نوموړي ډاکتر دهالبروک له خولی ویلی چی هغه دژوند په اخیرو شیبو کی هم دافغانستان دجګړی په هکله فکر او خبري کولي او وويل چه دافغانستان جګړه باید نوره ودروله شي،ولی په دي خبر کې دا نه دی ویل شوی چی هالبروک د کومی مثبتو تدابیرو او لارو چارو په سنجولو او عملی کولو سره باور درلود چی دافغانستان جګړه باید ودره وله شي دا په داسی حال کی دي چي په دی ورستنیو ورځو کی دامریکا ولسمشر بارک اوباما غواړی چی په افغانستان



کی خپله مخکنی سترا تیژی له سره ارزیابی او په هغی یو ځل بیا له سره غور وکړي،هیله ده هغه لاری چارې چی په افغانستان کی دجنګ ددریدو لپاره دریچارد هالبروک له لوری په نظر کی نیولی شوي وي په نوی پالیسي کی په ډاګه شي.

ریچارډ هالبروک تېر کال د ولسمشر بارک اوباما له خوا د افغانستان او پاکستان لپاره د ځانګړي استازي په توګه ټاکل شوی و او تراوسه یې څو ځلې پاکستان او افغانستان ته سفرونه کړي و.

**وسلوال طالبان وايي چې ریچارډ هالبروک ته د افغانستان د کړکېچ له امله د زړه ناروغي پیدا او د مرګ لامل یې شوه**

د طالبانو ویاند قاري یوسف احمدي وايي چې هالبروک پخوا په خپلو دیپلوماتیکو هلو ځلو کې ډېر ښه نوم ګټلی و، خو د افغانستان د کړکېچ له امله یې دغه نوم له لاسه ورکړ او ورته د زړه ناروغي پیدا شوه.

قاري یوسف احمدي ویلي، چې د پخواني شوروي اتحاد دیرغل پر مهال هم کله چې دافغانستان کړکېچ خپل اوج ته ورسېد، نو د شوروي اتحاد دریو مشرانو( برژنف ،کنستانتین چرینکوف او ولادیمیراندرو پوف ) په ډېر کم زماني واټن کې پرله پسې سکتې وکړې.

د قاري یوسف احمدي په وینا، وروستۍ علامې داسې څرګندوي، لکه اوس چې په امریکایي سیاسي او پوځي کړیو هم همدا رنځ لګېدلی وي

**د زیات شمیر افغان کار پوهانو په باور هولبروک د افغانستان په پرتله پاکستان ته زیات لېوال وو او د افغانستان د پالیسۍ د جوړولو په** وخت یې د پاکستان خبرو ته زیات غوږ نیوه،هالبروک دتوقع خلاف په افغانستان کی ډیری زیاتی برياووی نه لرلی دافغانستان په موضوع کی یی ډیر پر پاکستان او ځینی وختونه پرهند اتکا کوله.هالبروک دافغانستان ددولت له مخالفینوسره تر ډی حده دخبرو طرفدار ی نه کوله او په دی اساس یی همیشه دافغانستان پر ولسمشر ښاغلی کرزی باندی نیوکی کولي ،نوموړي دروان ۲۰۱۰ میلادی کال دمارچ دمیاشتی په پنځمه نیټه په امریکا کی دخپلو خبرو په طرځ کی وویل چي(کرزی خپله پښتون دي نو ځکه غواړي چی دطالبانوسره دسولي خبری وکړي،همداراز په خپلو دي خبر و کی ی په زغرده ویلی ؤ چی دډیورند په دواړو غاړو کی په هره پښتني کورني کی یو طالب حتمآ ناست دی او امریکا له دوی سره دکرزي دسولی په پروګرام کی شامله نه ده.)

ریچارد چارلز البرت هالبروک د ۱۹۴۱ کال د اپریل پر ۲۴ د نیویارک په ښار کې زیږیدلی او یو امریکایي څانګیز (مسلکي) دیپلومات، د ټلویزیوني مجلو پخوانی خپروونکی، لیکوال، د بیلابیلو امریکایي بانکي، سیاسي او ټولنیزو کلپونو او سازمانونو غړی ؤ.

د هالبروک مور پر ۱۹۳۳ کال د جرمني د شتوتګارت له ښار نه د امریکا متحدو ایالتونو ته کډواله شوې وه. د سیاسي چارو د شنوونکیو په اند، دا هغه مهال و چې د هټلر او پلویانو له ویرې یې ګڼ شمیر یهودانو له جرمني نه پښې سپکولې، په دې مانا چې ښایي د هالبروک مور به هم یهودۍ وه. هالبروک د تاریخ، نړیوال سیاست او المانی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ژبې په څانګه کې د زده کړې له ترسره کولو وروسته پر ۱۹۶۲ کال د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې دنده پیل کړه. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۶ پورې په ویتنام کې دمتحدو ایالتونو دنړیوالي پرمختیا د اژانس یا یو.اس.آی ډي سیمه ییز استازی و. هالبروک په ویتنام کې د دندې پر مهال څه موده له جان نیګروپونتې سره په یوه اپارتمان کې اوسیده. جان دیمیتري نیګروپونتې د۱۹۳۹کال د جولای پر ۲۱په لندن کې زیږیدلی او دهالبروک په څیر د امریکا یو څانګیز دیپلومات دئ. نیګریپونتې په ۱۹۷۰ کلونو کې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر هنری کیسنجر، چې په خپه یهود دئ، مرستندوی یا اسیستانت و او له نوموړي سره یې د ویتنام جګړې د «له منځه وړلو» په اړه په خبرواترو کې همکاري کوله.

نیګریپونتې د تیرې پیړی په اتیایمو او نویمو کلونو کې د امریکا د سفیر او دیپلو مات په توګه په مکسیکو کې د ځپاتیستو او دغه راز په فلیپین او نیکاراګوا کې د ازادي غوښتونکو پاڅونونو په ځپلو کې له سي آی اې سره اوږه په اوږه همکاري کوله. نیګروپونتې د «ایران کونترا» په رسوایې کې د ګډون او په هاندوراس کې د نیکاراګوا پر خلاف د یاغیانو د روزنې په اړه کې د سي آی اې په عملیاتو کې په لاس لرلو تورن بلل کیږي. په هاندوراس کې د ( ایل اګواکاتې) په نامه د سي آی اې په یوه اډه کې د ۲۰۰۱ کال په اګست کې د ۱۸۵ تنو هډوکې وموندل شول. د ګارډین په نامه بریتانوی ورځپاڼې پخپل یوه ریپوټ کې ادعا کړې چې د عراق په زندانونو کې د شکنجو ډولونه کټ مټ هغو لاربښوونو ته ورته دي چې په هاندوراس کې سي آی اې د هغه مهال د شکنجو په اړه په یوه کتاب کې کښلي وې.
هالبروک په ۱۹۷۰ کلونو کې په اندونیزیا کې د امریکا د متحدو ایالتونو د سلاکار په توګه دنده ترسره کوله. د دغه مهال په اړه د یو لړ داسې ریپوټونو د شتون خبره کیږي چې تر مخې یې نوموړي پر ختیځ تیمور د جاکارتا په ظالمانه تیري کې کارنده ونډه درلوده. پر ختیځ تیمور د اندونیزیا نوموړی برید د امریکا د پوځي ملاتړ په حال کې ترسره شو. دغه برید تر ډیره ځایه د امریکایانو له خوا پر کویټ باندې پوځي یرغل ته د صدام حسین هڅولو ته ورته بریښي. ځیني ګوت نیوونکې هالبروک تورنوي چې د ختیځ تیمور او اندونیزیا په جګړه کې یې د څه ناڅه دوه سوه زره تیموریانو په وژنه کې لاس درلود.

هالبروک دغه راز په سویلي کوریا کې هم په یوه خونړۍ پیښه کې په لاس لرلو تورن دئ. ویل کیږي چې نوموړي د ولسمشر جیمي کارټر پر مهال له سویلي کوریا نه د یو شمیر امریکایي پوځونو د وتلو په بهیر کې د ۱۹۸۰ کال په می کې د امریکایي پوځیانو په لاس د ګوانګجو د ډله ییزې وژنې په پیښه کې مهم رول درلود. په دغه پیښه کې په رسمي توګه دوه سوه، خو په حقیقت کې تر زرو زیات کسان له منځه لاړل. ګڼ شمیر څارونکې دغه پیښه پر ۱۹۸۹ کال د پیکینګ د تینانمین په ډګر کې د مظاهرې د ځینې پیښې ته ورته بولي.

هالبروک د ګوانګجو له ډله ییزې وژنې او د ۱۹۸۱ کال په فبرورۍ کې د جنرال چون دو هووان د کودتاه له بریالي کیدو وروسته د سویلي کوریا د هیوندای د کمپنۍ د خورا لوړې تنخوا ترلاسه کوونکې سلاکار شو. هالبروک د بالقان د جګړې امریکایي ستوری هم و. نوموړي، په داسې حال کې چې د لوړپوړو امریکایي پوځیانو له خوا بدرګه کیده، د بوسنیا د جګړې ټول اړخونه له دې ګواښ نه په ګټې اخیستنې د میز تر شا خبرو اترو ته سره کینول چې: «دغه سرتیري د امریکا د هوایي ځواک قومانده په غاړه لري او که موږ دلته یوه جوړجاړي ته و نه رسیږو، نو د دوي پوځونه چمتو دي چې پر تاسو بمونه وورو وي».

هالبروک پر ۱۹۹۵ کال د دریم ځل له پاره واده وکړ. اوسنۍ میرمن یې امریکایي ژورنالیسته او لیکواله کاتي مارټون نومیږي چې د ۱۹۴۹ کال د فبرورۍ پر دریمه په هنګري کې زیږیدلې ده. د هغې مور او پلار ایلونا او ایندرې مارټون هم خبریالان دي چې د نړیوالې دویمې جګړې پر مهال د یهودانو له ډله ییزې وژنې (هولوکاوست) نه ژوندي پاتې شوي دي

د یادونې وړ ده چې هالبروک یوازینی کس ؤ چې د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې یې د نړۍ د دوو جلا جلا سیمو، یانې اسیا او اروپا د څانګو مشري په غاړه درلوده. نوموړی په لندن کې د ستراتیژیکو څیړنو د نړیوال انستیتوت غړیتوب هم لري. هالبروک پر ۲۰۰۸ کال په امریکا کې د ولسمشرۍ د ټاکنو د منډوترړو پر مهال د دیموکرات ګوند له نوماندې هیلري کلینټون نه، چې اوس د بهرنیو چارو وزیره ده، ملاتړ کاوه. د امریکا نوي ولسمشر بارک اوباما د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ پر ۲۲ ریچارد هالبروک د پاکستان او افغانستان له پاره د خپل ځانګړي استازي په توګه وګماره. په ملګروملتونو کې د وسلو پخوانی پلټونکی سکات ریټر د اوباما دغه ټاکنه ناسمه بللې او ویلي ول: «هالبروک د دیپلوماسي د نزاکتونو پر ځای د پوځي حل د غوره کولو تاریخ لري.
بالاخره ریچارد هالبروک د۶۹ کلنی په عمر د۲۰۱۰ میلادی کال په ۱۴ نیټه دورپیشي ناروغی له کبله د واشنګټن په یوه روغتون کی ساه ورکړه.

پای

یادونه: پورت مطلب دمختلفو رسنیو په مټ تهیه شوی دي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ